دريمه کچه

# ليونی اشرف

education above all
التعليم فوق الجميع



ليکوال: سوکومر رای
انځور ګر: مانيشا ناسکار
ژباړن: سوديشنا شوم ګوش

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

د لیکوال په اړه

سوکومر رای په کال ۱۸۸۷ زیږدیز د اکتوبر په دیرشمه زیږدلی او خپلې مرستې او نووښتونه یې د ماشومانو د ادبیاتو لپاره په لاره واچول. هغه د کلکتې ښار یو تکړه او مشهور لیکوال او شاعر ؤ. ښاغلی سوکومر رای په یوه روڼد اندو کورنۍ کې زیږیدلی دی. هغه د هنرونو په برخه خپلې زده کړې په لندن کې بشپړې کړې دي او په همدې مسلک کې په هند کې یو مخکښ کس ؤ.

د هغه هنري کارونه د سانديش په مجله کې چې د ماشومانو په اړه ده پیدا کولی شئ. دغه مجله په کال ۱۹۱۳ زیږدیز کې د هغه پلار چلوله. هغه یو نوی ډول ادبیات په دغه مجله کې ځای پر ځای کړل. د هغه لیکنې او هنري کارونه مزاحیه رنګ درلود چې ډیری ځوانانو او ماشومانو ورته ځانګړې علاقه درلوده. د هغه ډیری خیالي هنری کسان لکه، هوګو، چاچو، موخو، هانګل او اشرف لیونی وو. د هغه شعري ټولګه د ابول تالو په نوم مشهوره وه چې ماشومانو ته ځانګړه شوې وه او په لومړي ځل په همدغې مجله چاپ شوه. او وروسته د کتاب په بڼه خپریده.

سوکومر رای په کال ۱۹۲۳ زیږدیز. د سیپټمبر په لسمه له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې، او له هغه څخه یو زوی په نوم دې ستیالي پاتې شه.

## دداستانونو په اړه

لیونی اشرف، یو خیالي نوم دی چې ښاغلي سوکومر رای په خپل هنری کار کې راوړی. هغه یو آزاد خیاله هلک دی چې په بنګالي ادبیاتو کې د ساده ګۍ او ټوکو لپاره کارول کیږي. دغه خیالي کس د ښاغلي سوکومر رای په مزاحیه هنري کارونو کې له وړې ټوکې بیا تر لویو ټوکو ټکالو او قیصو کې ځای لري. دغه قیصې د ښوونځي په شاپیریال کې جوړې دي او ډیری کارونه په استادانو سرته رسیږي، لکه ځنګه چې د استادانو او ماشومانو اختلاف په ټوله نړۍ کې لیدل کیږي. د اشرف لیوني کارونه په داسې ډول سرته رسیږي، چې څوګ ورسره مخالفت نشي ښودلی. د اشرف لومړنی قیصه په کال ۱۹۴۰ زیږدیز کې چاپ شوه.

## د دغې قیصې په اړه

د اشرف لیوني قیصه له څلورو بنګالي قیصو څخه ژباړل شوې ده او په نوې ماشومانه بڼه ترتیب شوه. یوه قیصه چې له ټولګي او د ښوونځي له انګړ څخه پیلیږي. دغه قیصه د اشرف شخصیت معرفي او د هغه په فزیکي حالت خبرې کوي. همدارنګه د هغه بې پروایي او ریشخندي بیانوي. په دغه قیصه کې د هغه توکې او غبرګونونه ښودل شوي دي.



په ښوونځي کې هر چا اشرف لیونی پیژنده. آن تر دې که کوم کس هیڅوک نه پیژندل، د اشرف په اړه یې یو څه اوریدلي ؤ. یو ځل یو یو ساتوونکي په ښوونځي کې کار پیل کړ. هغه د یو کلي ؤ، بیخي کلیوال او ساده ؤ چې په هیڅ نه پوښیده. کله چې یې اشرف ولید، پوه شه چې د چا په اړه یې خبرې کولې. دا آسانه خبره وه چې د نورو هلکانو په منځ کې اشرف وپیژندل شي. د هغه ږیره، خبرې، تګ او هرڅه دا ښودل چې هغه لیونی دی. د هغه سترګې ټاغې را وتلې وې او غټ غوږونه یې درلودل. او د هغه سر ببر او ګڼوډ ویښتان یې لرل.



د هغه په لیدو د سړي فکر ته را تلل چې یو نری سړی له ببر سر سره لکه کب داسې ښکاریده. هغه تیزې، تیزې خبرې کولې. او کله به چې روان ؤ، داسې معلومیده لکه نڅا چې کوي او دې وخت کې به لکه اغزن کب داسې بریښیده.



دا په دې مانا نه وو چې اشرف ډېر لیونی ؤ. کله به چې د ریاضي پوښتنې حل کیدې، په ځانګړي توګه هغه پوښتنې چې اوړدې د جمع او تفریق عملیې پکې وې، نو هغه ډېر ورته تکړه ؤ او سم ځوابونه به یې ورکول. او ځینې وخت به یې داسې ریشخندیانې کولې چې مونږ به ټول ورته حیران وو. هغه وخت چې اشرف لیونی زمونږ ټولګي ته راغی، نو جانو ډېر ښه هلک پیژندل شوی ؤ. که څه هم جانو په خپلو درسو کې تکړه ؤ، خو هیچا د هغه په شان بخیل کس نه وه لیدلی.

یوه ورځ اشرف له جانو څخه یوه د انګلیسي پوښتنه وکړه. بې له کوم دلیله جانو په اشرف غصه شه. ته څه فکر کوې چې زه بل کار نه لرم؟ نن به زه تاته انګلیسي در وښیم، سبا به کوم کس راځي او غواړي به چې ریاضي ورسره کار وکړم، په بله ورځ کوم بل کس به بله غوښتنه لري – نو زه به ټوله ورځ همدا کوم؟





اشرف هم په هغه غصه شه او ویل يې: ته ډېر بخيل او کنجوس يې. جانو دا خبره ملک ته ورسوله او ورته يې وویل: دا نوی هلک ډېرې بدې خبرې کوي. ملک په اشرف غصه شه او له هغې وروسته اشرف د خبرو کولو جرئت نه کاوه.



زمونږ د انګلیسي استاد بیشتو بابو ؤ. د هغه تر ټولو ښه زده کوونکی جانو ؤ. کله به یې چې درس ورکاوه، که به کوم څه ته اړتیا شوه چې په کتاب کې پیدا کړي، نو له جانو څخه به یې د کتاب غوښتنه کوله. یوه ورځ یې غوښتل د ګرامر کومه موضوع وګوري، جانو منډه کړه چې هغه کتاب ورکړي چې شین رنګ یې درلود. استاد کتاب خلاص کړ او په غصه شه.

استاد پوښتنه وکړه: داکتاب د کوم کس دی؟
جانو په ویاړ سره وویل: دا زما ده، استاده!
ښه، ته اوس بل چاپ کتاب لولې؟ دا ټول کتاب بدل دی.




د دې خبرو په ویلو سره یې د یو
کتاب نوم واخیست چې د ناول ؤ.
تر هغې پورې جانو نه پوهیده چې
له یو استاد سره خبرې کوي. استاد
ورته په غصه شه او ویل: دا بد
چلند دې له کومه زده کړی دی؟
جانو په بنده، بنده ژبه یې غوښتل
دا موضوع تشریح کړي، خو استاد
ورته نور هم په غصه کیده، ‘‘
غلی شه" دي ته اړتیا نشته چې
ځان په ناخبرئ واچوې.

د جانو غوړونه له شرمه سره شول. مونږ ټول په دې کار سره خوښ شوو. وروسته پوه شو چې دا ټول د اشرف له برکته وشول. اشرف د ګرامر کتاب د یو بل کتاب پر ځای چې همداسې شین رنګ درلوده پرې ایښی ؤ.



مونږ به همیشه اشرف څوراوه، په
هغه به مو ملنډې وهلې. خو هغه
هیڅکله نه خفه کیده. ځیني وخت به
هغه په خپل کړو وړو هم ملنډې
وهلې. یوه ورځ هغه وویل: ملګرو،
تاسي خبر یاست کله چې زمونږ
کوم ګاونډی د ام شریني جوړه
کړي، هغوی ماته غږ کوي.
پوهیږئ ولې؟ مونږ وویل: د دې
لپاره چې ته ډیره شریني خورې.
هغه خپل سر وښوراوه. نه داسې نه
ده. دا د دې لپاره کله چې هغوی
دغه شریني لمر ته واچوي او زه
ورشم او خپله ځیره ور وښییم، بیا
نو هیڅ کارغه زما له ډاره د
شیرینۍ خوړلو لپاره نه شي راتلی.
د همدې لپاره زما ګاونډیان هیڅ
ساتونکي ته اړتیا نه لري.



يو ځل هغه ښوونځي ته له يوه لوی پتلون او بې ډوله کمیس سره راغی. هغه بل شان معلومیده. اشرف پوهیده چې هغه د لیونو په شان ښکاري. او کله چې مونږ ترې پوښتنه وکړه: هې اشرف! دا دې څه اغوستي؟ په خندا یې ځواب راکړ: په دې رقم زه ښه انګلیسي زده کولی شم.



یو بل وخت هغه خپل سر خرپیلی وه او یوه کیله یې په سره تړلې وه چې ښوونځي ته راغی. کله چې مونږ هغه پورې خندل، هغه هم له مونږ سره یوځای په خندا پیل وکړ.

اشرف په ځان کې هیڅ هم نه درلودل، وچ کلک ؤ او د ځان ساتنه یې هم نشوی کولای. او په دې خبره ټول پوهیدو. په هغه وخت کې به چې د مکتب مفتش راغی، نو اشرف به ورته سندرې ویلې. که مونږ دا کار کړی وو، نو ډیره جزا مو لیدله. خو هیچا اشرف ته څه نه ویل، ځکه چې هغه یو لیونی ؤ.



کله چې د ښوونځي رخصتي خلاصه شوه، اشرف له ځان سره يو بکس راوړی ؤ. ملک پوښتنه ترې وکړه چې په دې بکس کې دې څه دي؟

اشرف وويل: زما ټول شيان په همدې بکس کې دي، ښاغلييه!

شيان؟ کوم شيان به وي؟ مونږ له ځان سره وبنګيدو. اشرف سره يې کتابونه، قلمونه، پنسلونه او پنسل تراشونه وو، نو د ټول شيانو څخه يې هدف څه ؤ؟

کله چي مونږ ترې وپوښتل، نو سم ځواب يې را نکړ. خبل بکس يې کلک کړ او وې ويل: دا کوښښ ونکړئ چې زما په بکس لاس ووهئ. بيا يې د بکس قلفک په يوه کيلي د يو انچ په اندازه خلاص کړ، منځ ته يې ور وکتل او خپل سر يې وخوځاوه او وې ويل: داسې يو شی دی. بيا له ځان سره په خبرو شه تا به ويل چې څه محاسبه کوي.

کله مې چې و غوښتل هغه ته لږ ور وګورم، بکس يې را ټخه لرې کړ او بيرته يې بکس قلف کړ.









ډېر ژر، زمونږ تر ټولو منځ کې دا بحث پیل شه. یو کس وویل: دا کیدای شي د هغه د خوراکي توکو بکس وي. حتمن یې څه خواړه را وړي وي. خو هیڅ یوه له مونږ څخه هغه نه وه لیدلی چې ښوونځي ته خواړه راوړي. یو بل وویل: کیدای شي د هغه د پیسو بکس وي. او خپلې پیسې پکې ساتي. نو دې همدې لپاره هغه دغه بکس له ځان سره ساتي. خو یو بل کس وویل: څوک په دومره لوی بکس کې پیسې ساتي؟ آیا هغه پلان لري چې په ښوونځي کې پور ورکول پیل کړي.







په بله ورځ د تفريح په وخت کې، اشرف ما خواته راغی او د خپل بکس کيلي يې ماته راکړه. هغه وويل: دا کيلي ښه وساته. په ياد ولره چې درنه ورکه نه شي. که چيرته زه ناوخته راغلم، دغه کيلي ساتوونکی ته ورکړه مخکې له دې چې ټولګي ته لاړ شې. د دې خبرې په ويلو سره يې خپل بکس د ساتونکي په کوټه کې کېښود. مونږ ډير خوښ شو! په پای کې مونږ د دغه بکس راز باندې پوه شو. مونږ ټول په دې تمه وو چې ساتونکی يو څو دقيقې له کوټې را ووځي.





ژر، ساتونکی خپل تنور خواته لاړ چې ځانته د غرمې ډوډۍ او چپاتې برابر کړي. خپل لوښي یې نل خواته یوړل. مونږ همدې وخت ته په تمه وو. په لږ وخت کې ساتوونکی له کوټې ووت. مونږ شپږ اووه کسان کوټې ته ورننوتو او بکس مو ځان خواته را کش کړ. ما هغه کیلي را واخیسته چې اشرف را کړې وه او بکس مو پرې خلاص کړ.



هلته د ورقو یو بنډل په بکس کې
پروت ؤ چې په یوه ټکه تړل
شوی وو. مونږ هغه غوټه
خلاصه کړه او د هغې غوټې په
منځ کې د ورقو بل بنډل ایښودل
شوی ؤ. او هغې په منځ کې بله
غوټه وه. او د هغې غوټې په منځ
کې یو کارت پروت ؤ. د کارت په
مخ لیکل شوي ؤ " لیونیه!"
د کارت په بل مخ لیکل شوی ؤ "
ډیر پلټل روغتیا ته توان لري"

.مونږ یو د بل مخ ته په حیرانتیا کتل. بیا یو هلک وویل: دغه اشرف مونږ ټول ریشخند کړو.
بل هلک وویل: راځئ دا بکس بیرته په هماغه خپل رقم بیرته وتړو، تر څو هغه پوه نشي چې مونږ دا بکس خلاص کړی دی. مونږ به هم هغه ریشخند کړو.
ما وویل: ښه خبره ده، کله چې هغه راشي مونږ به ټول ځانونه غلي ونیسو، او له هغه څخه به و غواړو چې په بکس کې څه دي.
او مونږ ډیر ژر هر څه په خپل مخکیني ډول بیرته په بکس کې کیښودل او بکس مو وتاړه.





زه د بکس تړلو په حال کې وم، چې يو غږ مو واوريده، هوهوهوهو! ټکان مو وخوړ، مونږ را تاو شو چې کتل مو اشرف په ديوال ناست ؤ او خندل يې، نيزدې ؤ چې له خندا وچوي. دغې مکارې ګيدړې مونږ هر چيرته ځارلو، مونږ اوس پوه شو. د کيلي ګانو راکول، د بکس ساتل له ساتونکي سره، د ښوونځي څخه د بهر وتلو بهانه، دغه ټول د هغه چلي کارونه وو.

هغه دغه بکس يوازې په مونږ د ملنډو وهلو لپاره راوړی وو.

اوس پوه شوی چې ولې هر څوک هغه ته ليونی وايي؟



# لارښودونکې پوښتنې

1. آیا فکر کوئ کوم کار چې (اشرف) جګباندو ته وکړل سم ؤ که نا سم؟ ولې؟
۲. اشرف خپلو ملګرو سره کومه شوخي وکړه؟
۳. د اشرف کومه غښتلتیا ستاسو خوښیږي؟ ستاسو کومه غښتلتیا نه خوښیږي؟ آیا غواړئ د اشرف په شان یو ملګری ولرئ؟
۴. آیا کوم کس سره مو شوخي کړې ده؟ کومه شوخي مو کړې ده؟ کومه شوخي غواړئ له ملګرو سره مو وکړئ؟
۵. کنجکاوي ښه ده، خو ډېره کنجکاوي کیدای شي په زیان واوړي. آیا یو مثال راوړلی شئ چې د کنجکاوۍ ګټې په ښه کړي او یو مثال چې د کنجکاوۍ زیان وښئیي؟